


# د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!**

کرونا ناروغي جدي وګڼئ، د روغتیایي مرکزونو په لاربښوونو عمل او د افغاني سرې میاشتې ټولنې د رضاکارانو او ګرځنده روغتیایي ټیمونو سره، چې شپه او روځ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د هیواد والو په خدمت کې دي، همکار پاته شئ؛ ترڅو د کرونا ناروغی له خپراوي څخه مخنیوی وشي.






د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښېدلو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو، درنو حاجیانو او مماثلو همکارو ملي ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.

ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.

په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنۍ تر ساتنې او روزنې لاندې لري او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکارۍ او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

پیښو ته د ځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۰ کال د جولای میاشتې برخمن شوي:

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرسته شوي توکي | مرستندویه بنستونه |
|---|---|---|---|
| کابل | ۱۴۱۷۹ | خوراکي توکي | اپیل / سره میاشت |
| وردک | ۴۰۲۰ | خوراکي توکي | سره میاشت |
| ننګرهار | ۸۲۶ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت و یونیسف |
| کنر | ۲۳۱ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت و یونیسف |
| کندز | ۱۲ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت و یونیسف |
| بدخشان | ۱۷۹۸ | خوراکي توکي | سره میاشت و یونیسف |
| فاریاب | ۱۴۰۰ | خوراکي توکي | سره میاشت |
| هرات | ۸۸۸۹ | غیر خوراکي توکي | اپیل |
| کندهار | ۴۸۷۰ | خوراکي توکي | اپیل |
| زابل | ۴۹۴۶ | خوراکي توکي | اپیل |
| ټولټال | | ۴۱۱۷۱ تنه | |

## د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کې په هیواد کې د بنکیلو اړخونو۱۳۸جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

## د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کې، د بندیانو او هغوی د کورنیو ترمنځ (۵) پیغامونه راټول شوي او (۲) پیغامونه ویشل شوي دي.


مسوول مدیر: محب الله شیرزی
د ډیزاین مدیر: سمسور فخري
د اړیکي شمیره: ۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷



وبسایت: www.redcrescent.af
ایمیل: dis@redcrescent.af

فیسبوک: Afghan Red Crescent Society
د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزی دفتر، افشار سیلو، پنځمه ناحیه، کابل – افغانستان

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پینځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولین (کونډې، یتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه یې رواني ناروغان دي.

## د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې میاشتې ټولنې روغتیایي خدمتونه ددې لپاره د اهمیت وړ دي چې په کلیو او بانډو کې د لیرې پرتو سیمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حیاتي ارزښت لري

| روغتیایي مرکزونه | او پي ډي روغتیایي خدمتونه | سکریننګ/ چاڼ | شکمن | راجع شوي شکمن کسان | روغتیایي زده کړې |
|---|---|---|---|---|---|
| ثابت کلینیکونه | ۸۳۳۱۷ | ۳۳۲۰ | ۷۲۰ | ۱۹۱ | ۵۳۲۴۵ |
| ګرځنده روغتیایي ټیمونه | ۲۸۱۵۹ | ۲۹۰۳ | ۹۲ | ۵۵ | ۲۳۸۰۳ |
| د اپیل پروژې ګرځنده روغتیایي ټیمونه | ۴۹۸۰ | ۴۴۶ | ۱۲۰ | ۴۶ | ۲۴۰۱ |
| فرعي روغتیایي مرکزونه | ۱۷۲۵۸ | ۳۱۷ | ۱۴۲ | ۸۸ | ۳۶۱۶ |
| بیړني فرعي روغتیایي مرکزونه | ۵۰۵۴ | ۷۵۲ | ۲۳۵ | ۹۳ | ۲۱۹۹ |
| جامع روغتیایي کلینیک | ۵۲۸۵ | ۲۳۸ | ۸ | ۳ | ۱۰۷۲ |
| مرکزی روغتون | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د کتلوي معافیت ګرځنده ټیمونه | ۴۰۰۰ | ۸۴۰۷ | ۲۳۶۲ | ۸۹ | ۶۴۹۴ |
| **ټولټال** | ۱۴۸۰۵۳ | ۱۶۳۸۳ | ۳۶۷۹ | ۵۶۵ | ۹۲۸۳۰ |

| | |
|---|---|
| د CBHFA روغتیایي عامه پوهاوي، لومړنیو ورغتیایي مرستو او د جګړې له ډګره د جسدونو لیږد پروګرام له لارې | ۱۵۸۹۹۳ کسان: برخمن شوي |







